مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۹/۲۰

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال

پینځم ټوک

دوه سوه او یو اویایمه پرله پسې برخه

کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

۱۵ – دا نه باید ګومان وکړو چې د تیمور شاه سیاستونه د درانیانو د حسادت له سترګو څخه دې په امان کې پاتې سوي وي. قومي مشرانو دا درک او ګومان نـهٔ سوای کولای چې له دوی سره په بې اعتمادۍ چلند کیږي ؛ دا بله لاره نـهٔ درلوده مګر دا چې د قبیلو له غړ سره یو ځای د خپلو حقوقو د ساتلو لپاره غږ پورته کړي او د هر امتیاز د بیرته ترلاسه کولو لپاره بحث وکړي او که دا ونـهٔ کړي نو هرو مرو له تدریجي تنزل سره مخامخ کیږي. د همدې نظر پر بنسټ ول چې هغوی په تیرین او دیراوت کې د دولت د ادعاګانو پر وړاندې مقاومت وکړ او له شدید مقاومت او مبارزې وروسته ئـې یوازې دومره ومنل چې پر هغو رعیتي ځمکو دې مالیاتې ارزونه ولګول سي چې دوی پیرودلې دي او یا دې هغه ځمکې تر دې مقرري لاندې راسي چې دوی په جبر او زور سره له بومي بزګرو څخه نیولې دي. د تیمور شاه پر مهال په کندهار کې د مالیاتي عوایدو ناظرین امام بخش خان او دوه تنه نور مشران ول چې له ډیرو پخوا وختونو په دې سیمې کې اوسیدل او له پارسي پښت څخه ول او قسماً ئـې له درانیانو سره په دې دښمني درلوده چې د مخکیني سلطنت پر مهال ئـې دوی د خپلو ځمکو له ستري برخې څخه محروم ګرځولي ول. دغو پارسي ژبو وزیرانو د درانیانو پر وړاندې د شاه له بې اعتمادۍ څخه ګټه پورته کړه او سخت مالي اصلاحات ئـې رامنځته کړل چې تر یوهٔ حده ئـې د مخیکنیونو تاوانونو جبران وربانديې کیدهٔ. او د دښمنۍ خاص احساس چې په وسیله ئـې دا وزیران پاریدلي ول ډیر ژر د مقابل لوري له متقابل عکس العمل سره مخامخ سو؛ په دې کې ټول پارسیوان ولس هماغه کرکه او خصومت له ځانه څرګند کړ چې نوموړو وزیرانو په خپلو سخت ګیرانه اقداماتو کې راپارولی ول؛ له هماغـهٔ مهاله دا احساس په هر راتلونکي پړاو کې په تدریج سره په لا نور تریخوالي زیات سو، دغه احساس د دواړو خواوو له غلطو کړنو څخه، ددولت د سیاسي تعصب له کبله رامنځته او د درانیانو او پارسیوانو تر منځ له یو بل څخه د غچ اخیستلو په شرایطو کې کوټ کوټ راټول سول.

۱۶ : درانیانو د تیمورشاه د مړیني پر مهال د بل هر وخت په پرتلې د دولت پر وړاندې له ځانه ډیر خطرناکه ظاهر څرګند کړ چې نـهٔ ئـې مخکې دومره خطر څرګند کړی وو او نـهٔ ئـې له هغـهٔ وروسته. دوی د خپل تل مخ په ودې شمیر له کبله او تر ټولو مهمه دا چې له هغو امتیازاتو څخه ډاډ چې دوی ته ورکړل سوي ول او بل ئـې لا دا چې په عمومي افکارو کې ئـې د دائـمي تفوق او باداری حق رامنځته کړی وو یو سهمناک او ویروونکی ځواک درلود او له بلې خوا دوی له یوې مخې له ددولت د ټولو هغو هڅو پروړاندې حساس کیدل چې د دوی کنترول لپاره ئـې اوچتول؛ ا د سدوزیو له سلطنت سره ددوی د یو شان ګڼلو احساس چې د احمد شاه قدرت ئـې ډیر متمرکز کړی وو په دې توګه خپل ځای شک، کرکې او متدرجاً د شاهي اقتدار د تعمیل پروړاندې بې صبرې او نا طاقتی او ورسره غبرګ د پارسیوانانو پر وړاندې له دښمنۍ ډک ځانګړي حسادت ته ورکړ، د پارسیوانانو پر وړاندې دا احساس ځکه دومره شدید وو چې د پارسیوانانو د دولتي اداري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بني په يوازې سر د ددوی احتمالي انحطاط ته لاره همواروله. د تيمور شاه د مړيني او له کابل او کندهار څخه د سدوزيو د صلاحيت او واک د شړلو يا اخراج په ۲۵ کلنه دوره کې ددغسې احساس حالت چې د دراني قبائيلو د وضعيت په ښـهٔ کيدلو باندې ئـې اغيزه درلوده ډيره وده وکړه. د افغانستان تأريخ په دې مودې کې د متداومو دسايسو او وينو توويولو د انقلاب او ضد انقلاب لړۍ زموږ مخې ته ږدي او ددغو شرارتونو عناصر او يا وسايل چې دوی ئـې په فعاليت راوستي ول پل - نښـهٔ ئـې له سره تر پايه د درانيانو په احساساتو او د هغوی په ترکيب او جوړښت کې موندل کيږي. له قدرت سره د هغوی مينه چې د ملا ستن ئـې له حده وتلو امتيازاتو ټينګه کړې وه او هغه فرصتونه چې ددوی د خوشحالۍ او ارضا لپاره رامنځته سوي ول د بنسټيزې اله ګولې موجبات ئـې رامنځته کړل او ددې باعث سول چې د حاکم قدرت پر وړاندې بلوا وکړي. د تيمور شاه زامن او لمسيان په دې ډاډمن ول چې که بدمرغۍ ورباندې راسي نو هرو مرو ملاتړ تر لاسه کولای سي او له دې سره په برابر که واک ته ورسيږي ورسره مخالف کيږي. وروسته له دې چې شاه زمان د خپلو وروڼو محمود او همايون په بلوا کې د درانيانو د ځواک خطر تجربه کړ، او وروسته له دې چې د مصالحې له لارې د دغو قبيلو د وفادارۍ په ترلاسه کولو کې ددهٔ هڅې بې ګټې وختې نو د خپل پلار سياست ته ئـې مخه کړه يعنی دا چې د درانيانو ټولنيز جوړښت له سلطنتي قدرت سره سمون نـهٔ خوري؛ سره له چې ښاغلي الفنستن د شاه زمان دا کار په خپل نظر په دې غندلی دی چې شاه زمان د چارچلند داسې تګلاره خپله کړه چې د قبائيلو لورينه او ښيګڼـهٔ ئـې له ځانه پردۍ کړه، خو دې تګلارې د سلطنت په هماغه لومړي پلان باندې ډډه لګوله؛ شک نه سته چې دغو اقداماتو د قبيلو د پردي توب احساس ځکه رامنځته کړ چې د همداسې يوې پاليسي سيستماتيک او قصدي منل ول؛ دا کولای سو وپوښتو چې که کوم متفاوت او د نرمښت سياست ئـې بايد نيولای وای نو ښايي پايلې به ئـې ډيرې بريالۍ وای. شاه زمان په لومړيو کې له درانيانو سره په حزم او احتياط چلند وکړ؛ هغه د قومي مشرانو ستره شميره بيرته خپلو ځايونو ته راوستله او د مستمري، د رعيتي او دولتي ځمکو نيول چې له مالياتو معاف ول او په عام ډول ئـې هغه امتيازات ورته بيرته اعاده کړل چې ددهٔ پلار موقوف کړي ول؛ شاه زمان ددراني مشرانو د خفګان په بدل کې ان هغه دوه کرکجن وزيران هم قرباني کړل چې د تيمور شاه دربار ته ئـې د دراني قبيلو پر ضد لارښوني کولې او په ډير شدت سره ئـې د مالياتو د راټولولو ويښتـهٔ په ويښتـهٔ محاسبه کوله؛ چې دې کار ددوی شکونه راوپارول او ددوی د حسادت د اور لمبې ئـې بلې کړلې؛ خو کله چې پوه سو چې ددغو امتيازاتو په بدل کې ددهٔ د ځواک پر ضد دسيسې راټوليږي نو د دراني قبائيلو نا آرام او ناراضې کرکتر زمان شاه مجبور کړ چې د هغوی قوت خپل ضعيف وګڼي، له دې کبله زمان شاه سرکوب ګرې پاليسي ته لاس واچاوه، خو ښايي زمان شاه په دې کې ډيره عجله کړې وي، دا پاليسي په وينو لړلو اقداماتو سره ملګرې وه، دا کار ددې باعث سو چې د درانيانو عامه بلوا راوپاروي او په پای کې ئـې د کابل له تاج و تخت څخه ليرې کړ.

۱۷ – په دې پسې چې د ګډوډۍ او اله ګولې راتلونکی دور راځي د درانيانو د دقيقو اقداماتو پل نيوني ته اړتيا نـهٔ سته. درانيان د شاه محمود د حکومت پر مهال په چټکۍ سره د سلف سلطان له کنترول څخه خلاص سول، د درانيانو په وروستيو برياوو کې ډيروالي ډير ژر خپل ځان د نوي سلطنت د ګټو پر وړاندې ددښمنۍ په بڼې راڅرګند کړ ځکه ددوی د شخصي دښمنيو مؤاخذه د هيواد سولې او آرامۍ ته مخرب تماميدل. په دې دوره کې دوی د ارعاب يا رشوت له لارې د احمد شاه د دورې د ډيريو عطيو بيا تجديد ترلاسه کړ، همدا رنګه درانيانو ددولتي اقتدار له عام ټيټوالي او د رعيتي ځمکو له امتيازاتو څخه په ګټه پورته کولو په هرې ولسوالۍ کې له حده ډير پر مخ لاړل «يو له دغو ولسواليو څخه زميندار وو»، دوی د رعيتي ځمکو تملک له پخوانيو څښتنانو څخه واخيست او د کارګرانو د وضعيت حالت ته ئـې راټيټ کړل. په دې دوره کې هغـهٔ جواز چې درانيانو ته ئـې اجازه ورکړه چې هم خپل حرص او هم خپل غچ ورباندې اقناع کړي که ډير ځواکمن نـهٔ وو خو دومره شديد وو چې تر دې پخوا بله نښـه ئـې نـهٔ ده ليدل سوې؛ د درانيانو قبيلو دوه ځله د شاه محمود د واک په راپرځولو کې دوه ځله له شاه شجاع سره ائتلاف وکړ؛ سره له دې چې درانيان په دې مورد کې بريالي نـهٔ سول خو دريم پاڅون بيله بڼه درلودله، په دې پاڅون کې د دراني سردارانو ډيرې کسان له مختار الدوله سره يو ځای سول، او ددوی د پارولو لپاره ئـې د کابل د شيعه ګانو پر وړاندې له دښمنۍ څخه استفاده وکړه، او دا کار ددوی په ګټه پريوت او شاه شجاع سلطنت ته ورسيد. نوي سلطان ته دا د نيکمرغۍ زيری نـهٔ وو چې ځان دې د دراني مشرانو د دومره پيرزوينو پر وړاندې مجبور وګڼي، دغو مشرانو شاه شجاع ته د مصيبت په ورځو لاس ورکړی وو، د شاه شجاع د موخو په ترلاسه کولو کې ئـې خپل ځان او مال له خطر سره مخامخ کړی وو، نو شاه شجاع مجبور وو چې د دوی د امتيازاتو درناوی وکړي، شاه شجاع تر دې نور هم ددوی قوت په دې ډير کړ چې له هغو مادي سلطنتي حقوقو څخه ور تير سو چې سلطنت ته بايد سپارل سوي وای. د دغو شپږو کالو په لړ کې چې شاه شجاع په تاج او تخت پاتې سو کندهار د بې نظميو او بلواګانو مرکز وو. شهزاده کامران په لومړي سر کې د فتح خان ملاتړ وکړ او ښار ئـې د خپل اکا پر ضد په لاس کې ونيوهٔ. کله چې دی شخصاً له کندهار څخه د شاه شجاع له پلوه عزل سو نو د حکومت چارې شهزاده قيصر ته پريښودل سوې؛ خو پادشاه لا پيښاور ته نـهٔ وو رسيدلی چې درانيانو، شهزادګی بلوا ته وهڅاوهٔ؛ د درانيانو په منځ کې اختلاف د قيصر د ماتې لامل سو او کامران بيرته راوبلل سو چې کندهار بيا ونيسي؛ کامران مخکې له دې چې د کوم بل انقلاب ويره خپره سي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زړۀ نازړۀ ښار ته راغی او کندهار بیرته قیصر ته اعاده سو. پادشاه ډیر ژر اړ سو چې کندهار ته ستون سي او د ستونزو په حلولو کې هڅه وکړي. شهزاده قیصر له خپلې غوره کړې لارې منصرف سو او عفو سو خو په عین وخت کې په دې ولایت باندې یو بل برید د فتح خان او د درانې لښکر په ملاتړ د فیروزشاه برید وو. دا برید په شا و تمبول سو، پادشاه بیرته ستون سو او د کندهار حکومت ئـې قیصر ته ورپریښود. نا کرارو او بې صبرو درانیانو چې فتح خان ئـې په لاس کې درلود دا ځل د کامران د راتګ غوښتنه وکړه؛ او کله چې کندهار ته ورسیدل قیصر نیږدې وو چې وتښتي، دوی په خپل عمل پښیمانه سول او د قیصر ملاتړ ئـې د هغـۀ د رقیبانو پر وړاندې وکړ؛ په دې سره هغوی اړ سول چې فراه ته په شا سي. دوی ونـۀ سوای کولای چې قیصر په دې متقاعد کړي چې تاج و تخت دې ونیسي، او مخکې له دې چې بلوا وکولای سي یوه ځانګړې بڼه خپله کړي نوموړي له فتح خان سره شخړه وکړه او ځواکمن فتح خان چې متلون المزاجه وو کامران ئـې بیرته کندهار ته راوست او د کندهار واګې ئـې ورکړې او قیصر ئـې اړ کړ چې د بلوڅانو په منځ کې تبعید سي. د درانیانو د ګډوډیو له کبله شاه شجاع ددریم ځل لپاره اړ سو چې کندهار ته راسي؛ سره له دې چې د شاه شجاع د پرمختګ په حال کې سرتیرو په یوۀ ځای کې د کامران له لاسه ماته وخوړله خو نور ئـې تر هغو کوم بل مقاومت ونـۀ لید چې دی خپله د کندهار ښار ته ورسید. کامران وتښتید او فتح خان او ددرانیانو لښکر شاه شجاع ته خپل د درناوي مراتب وړاندې کړل. شاه شجاع له کندهاره د سند پر لور مارش وکړ، شاه شجاع پر لاره روان وو چې قیصر په کابل کې پادشاهي اعلان کړه او محمود چې مخکې له حبس څخه تښتیدلی وو له فتح خان سره یو ځای سو او دۀ هم ځان په کندهار کې پادشاه اعلان کړ. شاه شجاع بیرته له سند څخه راستو سو او په لومړي سر کې ئـې د مختار الدوله تر مشرۍ لاندې د قیصر لښکر ته ماتې ورکړه او په پای کې ئـې شاه محمود هم له کندهار څخه وشړۀ ؛ خو په ۱۸۸۰ز کال کې ئـې [پاملرنه : دلته د کال په ویلو کې تیروتنه سوې ده چې ښایي ټایپي تیروتنه وي سمه نیټه ئـې ۱۸۰۹ زکال دی– ژ] ددوهم ځل لپاره سلطنت شاه محمود ته له لاسه ورکړ چې د فتح خان او درانیانو ملاتړ ورسره وو.

۱۸ - وروسته له دې چې شاه محمود ددوهم ځل لپاره سلطنت ونیوۀ نو خپل سلطنت ئـې د ۹ کالو لپاره وساتـۀ، د شاه محمود د سلطنت د دوام دلیل ددۀ د مدبرو سلاکارانو او د ځواکمن وزیر فتح خان د ملاتړ او هم په کندهار کې ددۀ د زوی د کامران د شدید چلند له کبله ول. باید اعتراف وکړو چې په دې دورې کې سره له دې چې د انقلابونو صحنې په چټکۍ سره تکراریدلې او قبیلې ئـې د کورنۍ جګړې له وحشت سره عادت کړې وې بیا هم په دغـۀ پړاو کې د درانیانو قدرت د تیر په پرتلې لږ خطرناک ظاهر له ځانه څرګندوي، دوی زده کړل چې د سلطنتي قدرت ثبات عمدتاً ددوی په متزلزل ملاتړ پورې تړلی دی خو ورسره دولت ته د مزاحمت په رامنځته کولو کې ددوی توان د جنګ جګړو او ناکراریو له کبله سخت تاوان لیدلی وو؛ تر ټولو مهمه ئـې دا وه چې ددوی د سیمې په زړۀ کې د پارتیزاني جنګ جګړو دوام قبیلې دائـمي جګړو ته راکاږلې وې او دا ددې لامل سوې وې چې د مشرانو تر منځ دښمني او د قبیلې پر وړاندې د بلې قبیلې د دښمنۍ احساس رامنځته سي، او اغلباً په عین ولس کې خیل د خیل پر ضد وو (ولس قبیله ده او خیل د قبیلې برخه ده) او دې کار له مشدده حالاتو په استثناء ، د سلطنت بقا د درانیانو د هر ډول کنفدراسیون پر وړاندې ټینګه کړه چې خپل ګډ نظم او ګډې ګټې د هر ډول تیري او نارواوو پر وړاندې خوندي وساتي. هغه سیالۍ او رقابت چې د ځواکمنو کورنیو د غړو تر منځ رامنځته سوی وو او هغه دښمني چې دوی اغلباً د بیلابیلو سیالیو په لړ کې د کندهار د حکومت لپاره یو بل ملامتول سلطنت ته دا وړتیا ورکړه چې لومړنۍ نارضایتي په دې ډول کنترول کړي چې که کوم مشر له ځانه د خیانت کوم چلند ښکاره کړ نو پر ځای ئـې د هغـۀ رقیب راوستل کیدۀ. پخوا به پر یوې پیاوړې ډلې باندې د فشار او اغیز وسایل او لارې چارې چې د سلطنت لپاره رقیب او مخالف ګڼل کیدل جوړیدل خو اوس سلطنت ته دومره اړینه ده چې یوازې د کنترول سترګې وربانديې ځارو وساتي او په مهارت او هوښیارۍ سره د هغـۀ خطر مخه مخکې له مخکې ونیسي چې د ممکنه خطر سرچینه بلل کیږي- به بل لوري کې دداسې د سزا ورکولو لپاره د یوۀ چټک او له انرژۍ ډک سیستم د رامنځته کیدلو لپاره فرصت رامنځته سو چې ساری ئـې نـۀ درلود چې د سلطنت د سپک سوي وقار او له لاسه تللې اتوریتي د ساتلو لپاره اړین وو خو د تیرو نورو سلطنتونو په شان هماغسې چې د شاه زمان د خلعې په فاجعې کې ولیدل سول د دا ډول سیستم رامنځته کیدل او عملي کیدل کاملاً غیر ممکن ول. دا چې شاه شجاع د درانې قبیلې په سرکوبولو کې معقول فکر درلود موږ کولای سو د ښاغلي الفنستن نظر راواخلو چې د شاه شجاع د حکومت سیاسي کرکتر شرحه کوي، النفستن په دوه وو نقل قولونو کې د پیښاور له دربار څخه اټکل کوي : " پادشاه د درانیانو نظم ته د حسادت په سترګه ګوري او په تضعیفولو کې ئـې تل په غیر مستقیم ډول هڅه کوي." او بل ځای وایي : " د دربار په سیاست کې تر ټولو د پام وړ موضوع له درانیانو سره د شاه نیږدې اړیکې او د دې قبیلې له اشرافو سره د پادشاه رقابت ده. د پادشاه سیاست دا دی چې درانیان ځان ته مطیع وساتي حال دا چې دوی ته تر نورو افغانانو برتري او لوړوای هم ورکوي،" خو شاه شجاع د خپل شپږ کلن کړکیچن او متشنج سلطنت په دور کې نه دومره فراغت درلود او نـۀ ئـې هم ښایي دومره انرژي درلوده چې د دې قبیلې د انقیاد لپاره هر ډول اقدام ته لاس واچوي؛ محمود ته د دۀ د سلطنت بایلل باید عمدتاً د شاه شجاع په دغـې سیاسي موخې کې د هغه ناکامۍ ته نسبت ورکړل سي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱۹ – د محمود د بیا اعاده سوي سلطنت پر مهال حکومت کاملاً متفاوت ظاهر غوره کړ؛ که څه هم پادشاه په خپله د احتیاط یا د پیاوړي ګام د اوچتولو دومره وړتیا نـۀ درلوده بیا هم ددۀ د مدبر وزیر او د دۀ د زوی له پلوه دا ګامونه اوچت سول؛ اول الذکر «وزیر فتح خان - ژ» له خپلو سیاسي مهارتونو څخه په ګټې اخیستـنې د قبیلو تر منځ اختلافاتو ته لمن ووهله او موخه ئـې دا وه چې په ممکنه چټکۍ سره د قبیلو قدرت سرکوب کړي؛ د پادشاه زوی په کندهار کې په خپل حکومت کې، په بې پروایۍ او قساوت سره ځانته داسې اغیزمنه وسله یا وسیله وموندله چې کولای سو د استبداد او د بې نظیره شدید ظلم او قساوت نوم ورباندې کښیږدو چې د افغان شخصیت د پیاوړو عجایباتو له منځه یو ځانګړی سبعیت ننداري ته وړاندې کوي. شهزاده کامران درانیان کاملاً قصابي کړل؛ د کامران اعدامونه انفرادي نـۀ ول کومه منحصره یا یوازینۍ او د پام وړ یا د اړین عدالت کومه بیلګه نه وه بلکه دا قتلونه له یوې مخې قصدي قتل عامونه ول – کټ مټ هغه قتل عامونه چې موږ ئـې په تأریخ کې د آتیلا او یا د چنګیز د قتل عامونو په هکله لولو او وینو چې د فاتح یوازینۍ موخه بشپړه نابودي ده؛ کامران د وینو تویولو دا سیستم په دومره پراخ او دومره بې رحمۍ سره پلی کړ چې مغروره درانیان ئـې چې پادشاهان ئـې پر تخت کښینول او له تخت څخه ئـې بیرته راغورځول، امپراتورۍ او سلطنتونه ئـې ړنګول دومره خوار او ټیټ کړل چې که کله ددرانیانو کوم څوک د کامران حضور ته ورتـۀ نو پر ځان به ریږدیدۀ او د مطیع او د مریې په توګه به د هغـۀ په محضر کې کښیناست. د دیادولو وړ ده چې شهزاده کامران چې موخه ئـې د درانیانو د قدرت له منځه وړل ول د درانیانو په عجیبو او غریبو مالي امتیازاتو کې (هماغسې چې درانیانو ګومان کاوۀ) له لاسوهنې ډډه وکړه. په مالي چارو کې د کامران د کندهار د حکومت څو تازه ګامونه دا ول : لومړی ئـې په هرې تیول قلبې باندې اتـۀ روپۍ مالیه وضع کړه او دا پر هغو ځمکو وه چې د «کاه بها» په نوم په ښار پورې اړوندې ځمکې وې، او فرض دا وو چې د بهوسې د ځانګړې اندازې تبادله دې ورباندې وسي او یوازې په یوۀ مورد کې دا کار ځکه عملي سو چې د بهوسې او وښو د قلت کال وو او د خپل سپارۀ ځواک لپاره ئـې ایښودل سوې مالیه په بهوسې وضع کړه په پاتې نورو کلونو کې دا مالیه د دائمي مالیې په توګه پر ځای پاتې سوه؛ دوهم پخوا به قبیلو په کال کې یو ځل د هرې قلبه ځمکې پر سر ۵ تنه بزګران یا کارګران د پینځو ورځو لپاره د «جوی شاه» د نهر د پاکولو لپاره چمتو کول چې د «خرقې مبارکې» د ځمکو د خړوبولو لپاره نهر پاک وساتي، اوس د همدې هرې قلبه ځمکې پر سر درې روپۍ نوره مالیه هم کښیښودل سوه؛ د کشک نخود له حاصلخیزو ځمکو څخه د ناڅیزو ۴۰ خروار غلاتو چمتو کول ظاهراً د وزیر د لونګۍ په نوم کښیښودل سوه خو په واقعیت کې دا ددولتي مالیې یو قلم وو. له دې سره سره ګومان نـۀ سو کولای چې شهزاده کامران دې د خپلو عایداتي مالیاتو په هکله او یا دې هغه مالي رکود کم ارزښته ګڼلی وي چې د ټولنې پر وضعیت او په پای کې د درانیانو پر قدرت ئـې اغیزه کړې وه. کامران له دغو ټکیو ښـۀ خبر وو او چارچلند ئـې په یوۀ صحیح او سنجول سوې سیاست دیکته سوی وو؛ کامران په دې ښـۀ پوهیدۀ چې د تیول د ځمکو په امتیازاتو کې لاسوهنه چې په چټک او ملموس ډول د درانیانو د عمومي نظام پر ګټو اغیز شیندې او کولای سي قبیلې دې ته وهڅوي چې خپلې خصوصي دښمنۍ یوې خوا ته پریږدي او د خپل ځان په راټولولو سره خپل ټول ځواک ددۀ د هغو اقداماتو د تس نس کولو لپاره یو موټي او متحد کړي چې دوی ټول په ګډه ورځخه کړیدل، حال دا چې د کامران اعدامونو که یوه خوائـې په وحشت کې سوځوله او یا ئـې په خښم راوستله مګر بله خوا به ئـې ورباندې خوشحاله کړله : ددۀ د سدوزیو ټبر چې د غیر مسؤولانه وینو په تویولو کې له دۀ څخه ئـې کار اخیست، کامران ډاډه کړ چې ددۀ د وحشت او د ناتار د مخنیوۍ لپاره به هیڅ څوک وسله پورته نـۀ کړي یا به ئـې پر وړاندې د عمومي خښم احساس راپورته سي او یا دې د کامران په سرو وینو لړلو اقداماتو پر ضد دې کوم مخالفت وسي. د درانیانو د مشرانو ستره شمیره په هغو کورنیو جګړو کې ښکیل سوه چې د تیمور شاه له وخته پیل سوې وه؛ ددوی ډیرۍ برخه له هماغه وختونو د دغو جګړو د پایلو له کبله د شخصي دښمنیو قرباني سوي ول : او د شهزاده کامران قصابیو یوازې څو تنه ژوندي پریښودل چې د نورو په منځ کې ئـې اغیزمن غږ درلود. هغه قبیلې چې د خپلو مشرانو له لرلو څخه محرومې سوې وې په چټکۍ سره د سیاسي عواقبو له کبله شا ته سوې، ددوی هغه توفاني عادات چې د یوۀ کار لپاره به ئـې په ګډه ګام پورته کاوۀ او له مشر څخه به ئـې هدایات اخیستل او د سلطنتي قدرت ستنې ئـې فلج کړې وې اوس دې حد ته راټیټې سوې وې چې یوازې مسافران لوټ کړي او یا په خپلمنځیو لوټماریو کې سره ښکیل سي. د شاه محمود د سلطنت په دوهم دور کې یو ځل هڅه وسوه چې تاج او تخت بیرته ونیسي خو دا هڅې ځکه بریالی نـۀ وې چې درانیانو داسې مشرتابـۀ نـۀ درلود چې هغوی پاڅون ته وهڅوي : سره له دې چې شهزاده کامران د پیاوړي او مدبر وزیر «فتح خان» پر وړاندې د حسادت په لړلو سره په دې نـۀ وو بریالی سوی چې نوموړی له منځه یوسي او د خپل پلار د مقام لوړوالی ئـې د فتح خان د هڅو پوروړی ګاڼـۀ، نور ډیر لږ امکان لیدل کیدۀ چې سلطنت دې یا د باندني یرغل او یا دې د کورني پاڅون له کبله ړنګ سي. د بارکزیو کورنۍ چې فتح خان ئـې مشر وو، او دوی هم درانیان دي، واک ته په رسیدلو په دې خوشحاله وه چې نور قومي مشران سرکوب کړي. شهزاده کامران په کندهار کې د خپل خونړي حکومت په تګلارو کې د فتح خان د وړاندیزونو پیروي کوله، فتح خان او ورونو ئـې تل د خپلې کورنۍ د ځواک د ټینګولو لپاره بې امانه هڅه کوله او د شاه محمود د اقتدار تر چتر لاندې د خپلو طرحو لپاره ئـې کار کاوۀ او له خپلې قبیلې پرته ئـې هڅه کوله چې له ټولو نورو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

درانیانو سره تړاو ونـۀ لري، دوی هڅه کوله چې د درانیانو د ملاتړ پر ځای د غلزیو، هزاره ګانو او نورو له منځه د خپلو آزمویل سویو او ډاډمنو خادمینو ملاتړ تر لاسه کړي؛ دا باید هغه کسان وي چې د شدیدو مالي اړتیاوو په لړلو په خپلو اربابانو پورې تړلي ول او نـۀ دې هیڅ ډول باندنی اړیکه و لري چې ددوی ژمنه، وفا او پایبندي له ګواښ سره مخامخ کړي.

۲۰ – د فتح خان ورونو په یوۀ وخت د امپراتورۍ په بیلابیلو ټکیو کې د خپل مشر «فتح خان – ژ» د وژنې په غچ کې راپورته سول او هڅه ئـې وکړه چې شاه محمود او زوی ئـې له واکمنۍ څخه وشړي، دې انقلاب د ټولې درانې قبیلې اغیز او ملاتړ له ځان سره نـۀ درلود او د کورنۍ جګړې یوه نادره صحنه ئـې ننداري ته وړاندې کړه. نـۀ پادشاه «شاه محمود- ژ» دا وړتیا درلوده چې پر خپل ځان د درانیانو لښکر راټول کړي چې کیدای سوای په همدې لښکر ئـې خپل یاغي رعیت ځپلی وای او نـۀ بارکزیو سردارانو نـۀ دا غوښتنه یا ټینګار وکړ چې د سلطنت په پرځولو کې دې ددوی ملاتړ ته ور ودانګي. که درانیان یا د پادشاه خواته او یا د باکرزیو ورونو خواته تللي وای بیا هم دوی د نورو په شان د مزدورو اجیرو سرتیرو حیثیت درلود او د قبیلې ډیره ستره بدنه په دې شخړه کې بې تفاوته پاتې کیدله. بارکزي سرداران په لومړیو کې د سدوزي پادشاه له زرق و برق پرته د حکومت د دوام لپاره پر خپلې وړتیا ډاډ نـۀ درلود نو دې ته په کتلو سره ئـې د درانیو د ذاتي لیوالتیا پر بنسټ شاه شجاع ته بلنه ورکوله چې له خپل پټن ځای راووځي او بیا دې د سلطنت پر هغه تخت جلوس وکړي چې ورور ئـې ورڅخه شړل سوی وو، خو دوی له خپلې دې بلنې څخه ځکه پښیمانه سول چې دې کار دا خطر له ځان سره درلود چې دوی به بیرته دوهم مقام ته راټیټ سي نو ځکه ئـې د شاه شجاع له بللو څخه مخکې بلوا پیل کړه او شاه شجاع ئـې اړ ایست چې خپل ګامونه دې بیرته د هند پر لور واخلي ځکه هغوی له دې وروسته پر ځان، پر خپل قوت او خپلو سرچینو ډاډمن ول. د «بارکزیو – ژ» ورونو بخت چې له ټولې امپراتورۍ څخه ئـې کندهار په برخه رسیدلی وو خپل موقعیت د درانیانو د سیمې په زړۀ کې تر شلو کالو پورته وساتـۀ؛ ددوی ثبات له دغـۀ عملي ثبوت څخه ښکاري چې هغه اداري سیستم چې دوی پلی کاوۀ د قبیلو د تنظیم لپاره د مناسبې سیاسي کړنلارې په تشخیص او تعین کې زښت ډیر اهمیت درلود، زه به خپلې دقیقې او لنډې کتنې یا ملاحظات وړاندې کړم.

۲۱ - کله چې سرداران د کندهار حکومتي واګې په لاس کې واخیستلې د درانیانو د ځواک بلاوقفه نیږدې ویره ئـې هیره کړله. د قبیلې ټوله بدنه د یوۀ وخت لپاره د ټولو هغو کسانو په له لاسه ورکولو سره فلج سوه چې یوازې د خپلې شخصي ګټو ساتنه ئـې کوله؛ خو بیا هم د قبیلې په ټول جوړښت کې د نظم لپاره د ژوند ځواک موجود وو- چې ځمکې ئـې په لاس کې وې او د خلکو په عام منظر کې ئـې برتریت یا برلاسی درلود- نتیجتاً له کړکیچ څخه د چټکو وتلو شونتیا ممکنه وه او د افغانستان د حکومت غاصبینو ته ئـې د راتلونکې تشویش پریمانه دلایل په لاس وکولای سول. له دې کبله دا د کندهاري سردارانو لپاره د ډیر اهمیت وړ موضوع سوه چې له هرې ممکنې لارې څخه داسې وسایل ابداع کړي چې په آرامۍ او اغیزمنتوب ددرانیانو امتیازات راخپل او مخکې له دې چې دوی له اوسني کړکیچ څخه بهر راووځي د ټولنې له نورو طبقاتو سره ئـې دا دائم لپاره برابر کړي ځکه په اوسني وضعیت کې دې سطحې ته ددوی راټیټول سخت کار دی. د احمد شاه له وفات وروسته د درانیانو سپارۀ په ندرت راغوښتل سوې ول او په ندرت سره په نورو ځواکونو کې ګډ سوي ول، هیڅ دولت په وسلو سمبال د یوۀ پیاوړي، مستقل او سرکش ځواک د ساتلو له خطر څخه بې خبره نـۀ دی، خو دا ډول منفي احتیاط د عامه بسیاینې لپاره ډیر شکمن ښکاریدی، هغه لارې چارې چې د دغو سپرو ځواکونو د ساتلو لپاره په کار اچول سوې وې دا وې چې د قبیلو کورنۍ پیاوړتیا باید غښتلې سوې وای او هغوی ته ئـې دا وړتیا ورکړې وای چې جنګ ابزارونه راټول کړي او په یو ناڅاپي حالت کې ئـې کولای سوای د قبیلو همداسې چمتو ځواک د جګړې ډګر ته چې په یراق او جنګي وسلو ښـۀ سمبال ول ولیږي او دا به یو سهمناکه ځواک وای. سردارانو ته یوازې دومره څرګنده وه چې د حکومت د امن د ګډوډولو د مخنیوۍ لپاره یوازینی او اغیزمن میتود دا دی چې د درانیانو ټولنیز وضعیت کړکیچن کړي او دې موخې ته درسیدلو لپاره کندهاري سردارانو زښته ډیره پاملرنه کوله. د سپرو د تجهیز مسؤولیت دې ته اړتیا نـۀ درلوده چې دا مسؤولیت دې رسماً منسوخ سي؛ له دې مخکې یوازې نادرو حالاتو ته په پاملرنې سره، دا مسؤولیت تقریباً منسوخ سوی وو او له دې چې د دولت سیاست ته دا کار بې خونده وو نو ځکه دغـۀ مسؤولیت اوس نور شتون نـۀ درلود. ددغو مسؤولیتونو پر ځای د مالیاتو راټولولو ته اړتیا وه، سره له دې چې سردارانو خپله پاملرنه د مالیاتو راټولولو ته اړولې وه خو دا ناسنجول سوی ګام په دې معنی وه چې یو ناڅاپه دې د قبیلې د شخصیت ګریوان ته لاس واچول سي چې د درانیانو د تهداب پر ډبرو ئـې اغیز کاوۀ، ددې کار ژوروالي ته په کتلو حتی سردارانو هم جسارت نـۀ کاوۀ. دوی مجبور ول چې خپلې موخې ته د رسیدلو لپاره یو پیچلی او غیر مستقیم سیاست تر لاس لاندې ونیسي چې د خپل نوم له رسوایي څخه وډار سي او د همداسې یوۀ نوښت خطر ووینې او په درانیانو باندې داسې یو مسؤولیت تحمیل کړي چې په خپله خوښه بدلون ته غاړه کښیږدي. لومړنی برید د رعیت د ځمکو له لارې وو چې دوی «همسایه» بلل «همسایه د ګاونډي په معنی ده خو په واقعی معنی کې په قبیلې پورې متعلقو کسانو ته د همسایه اطلاق هم کیدۀ». د ټولنې دغې ګڼ وګړې طبقې کله چې د خپلو اربابانو د حرص او سولندتوب د پارولو لپاره نور څه نـۀ درلودل ځانونه په نسبي آرامۍ کې احساس کړل؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ځمکو په کرلو کې د رعیت کار، د بنونو او د تاکستانونو د مالیارۍ د چارو پرمخ بیول او په ځانګړې توګه نورې هغه کوچنې چارې چې پر مخ بیولو ته ئـې د شپانـۀ یا بزګر متو ته اړتیا وه هغه شیان ول چې له پامه نه سوای غورځیدای او قدر ئـې کیدۀ، او دراني ځمکوال ډیر ژر لاس په کار سول او دوی ئـې د اربښتمن ملکیت په توګه وګڼل او خپله دنده ئـې وګڼله چې دوی په برابر ډول ددولت له ظلم او د یو بل له مداخلو څخه محفوظ وساتي؛ هرې قبیلې د خپل مؤلده صنعت د ګټو انحصاري حق درلود. له دې کبله سرداران پوهیدل چې د درانیانو د ټپي کولو لپاره د کار وړ او ډاډمنه وسیله په لاس ورغلي ده چې دوی د خپلو همسایه ګانو له پلوه ټپي کړي او دداسې طراحي سوي سیستم په کارولو کې ئـې ځنډ ونـۀ کړ.
هغه ځمکې چې ما لیدلي دي تقریباً ټولې ئـې له فارسیوان رعیت څخه غصب سوې وې ؛ د کارګرانو په توګه ددوی وضعیت ته په کتلو سره دا خلک چې په اصل کې بومي بزګران ول اوس له داسې عجیبو کالونیستانو سره طبقه بندي سوي چې احمد شاه ورباندې د «خانه دادي» [1] یا (سرانه مالیې) په نوم تپلي وه « اوس د سردارانو پرمهال د (خانه واري) [2] په نوم یادیږي» او اندازه ئـې د حکومت د اړتیاوو، د آسانتیاوو د رامنځته کولو او د رعیت د ګټو په استازیتوب دهغوی د تحقق لپاره په بدلون کې ده چې د کورنۍ پر سر له ۳ روپیو تر ۱۵ روپیو پورې ده – چې له درانیانو په استثناء د کندهار د وګړو په ټولو طبقاتو باندې تحمیل سوې ده لکه پر پارسیوان رعیت، غلزیو، هزاره ګانو، بلوڅانو، سیستانیانو، کاکړانو، مالکي وګړو، ترین، بریڅو، خجندیانو او نورو. بل بدلون چې سردارانو راوست د «انګوري» په نوم یادیدۀ چې د نادر شاه پر مهال د ځمکو د ویش په وخت کې د رعیت د ځمکو پر باغونو د مالیې وضع کول ول؛ هغه مهال د هرې ونې پر سر یوه مسي «پیسه – ژ» وه او سردارانو ظاهراً د مسکوکاتو د کم ارزښت کیدلو له کبله غوښتل د مسکوکاتو ارزښت پورته یوسي نو د هرې ونې پر سر ئـې دا مالیه دوه ځله نوره زیاته کړه. په عین حال کې د «غلامان شاهین چي» [3] (شخصي خدمه، قوش بازانو او نورور) د استخدام په نامـۀ نقدي مالیه وضع سوه چې د هر بزګر لپاره پینځه تومانه، او د نورو لپاره څلور تومانه وه او په اوسط ډول د هر قطعه باغ پر هرې ونې ولګیدله او له دې وروسته د نورو مالیاتو پر سر د انګوري د مالیې په نوم د کلیوالي ځمکو مالیه وضع سوه لکه په څو موردو کې یا دا ځمکې د پارسیوانو مالکانو په لاس کې پاتې سوې او یا هم د درانیانو ځمکني انتظام ته انتقال سوې. د مالیاتو د وضعې په محاسباتو کې چې د احمد شاه پر مهال د «سرګله» [4] په نوم مالیه وضع سوې وه یو شمیر اصلاحات راغلل، په دې اصلاحاتو کې اوس د هر پسـۀ پر سر څلور شاهی، د غوا یا اسپې لپاره ۱۲ شاهی او ۱۴ شاهی د اوښ لپاره وضع سوې، مخکې پارسیوان او بومي رعیت له دغو مالیاتو معاف ول، دا مالیات په دغو یادوسویو خلکو هم وضع سول او همدا شان هغو پردیو یا باندنیو کسانو چې غوښتل ئـې دلته میشت سي پر هغو هم دا مالیه ولګیدله- خو د هوتکو، توخیانو او د بلوڅو د قبیلو په حق کې ځانګړی معافیت په پام کې ونیول سو. په دغو مالیاتو کې تر ټولو نوې مالیه چې وضع سوه د «څادر» [5] په نوم مالیه وه یعنې د مالیې پر نقدینې ۱۰ په سلو کې یو فیس وو.
۲۲ – سردارنو خپلې موخې ته د رسیدلو لپاره دداسې لارې هوارولې چې وکولای سي هم د درانیانو په خاصو امتیازاتو کې مستقیمه لاسوهنه وکړي او هم خپل مالي وضعیت ته ښـۀ والی راولي، ددې موخې د تحقق لپاره د رعیت پر ځمکو د مالیاتو زیاتوالی وو چې هم پر دراني مالکانو او هم د درانیانو تر تحفظ لاندې رعیت باندې په سختۍ او شدت سره وضع سول، او دا کار قصداً ددې لپاره وسو چې د درانیانو د مشرانو د احساساتو سپکاوی وکړي او هیڅ داسې موقع په لاس ورنـۀ سي چې ټول په ګډه مقاومت ته لاس واچوي. په دې پسې بل ګام چې اوچت سو یعنی د رعیتي، نوآباد او خالصه پر ځمکو د مالیاتو وضع کول ول چې د درانیانو په ملکیت کې وې. قبیلو نور هغه پخوانی دود هیرکړی وو چې دداسې ځمکو د کرلو لپاره به ئـې د دعادلانه مالیې له ورکولو څخه تیښته کوله او سردارنو هم ددوی دغه رضایت ته په کتلو سره د مالیاتو د وضع کولو ګامونه په شدت او ان تر غمجن حد پورې پلي کول. ددغسې ځمکو د عوایدو راټولول د حکومتي مأمورینو پر غاړه ایښودل سوي ول چې د مالیاتو د ثبت د کتاب د تعیین سوې مالي دوه او ان درې چنده مالیه به ئـې له مالکینو غوښته، او که دراني بزګرانو دداسې غیر معمولي غوښتنې پر ضد اعتراض کاوۀ هغوی ته به ئـې ویل چې د خپلو ځمکو متبادل لرئ او په ډیریو حالاتو کې به ئـې ددوی ځمکې په زور سره غصب کړې. په دې توګه درانیان ئـې د عدالت په نوم چینې لاندې دې ته تسلیم کړل چې د وچ زور دغسې پسو اخیستـنو ته غاړه کیږدي، له دغسې حالته په ډاډمن کیدلو سردارن اوس نورو کوچنیو اقداماتو ته لاس اچوي. ددولت د ملاتړ لپاره د ۳۰۰۰ کسیز دائـمي سپارۀ ځواک ساتل په دې شرط وسول چې همدومره شمیر سرتیرو ته به د تنخواه د برابرولو ترڅنګ هغو ته خوراک او څارویو ته ئـې علوفه هم باب چمتو کړي، په دې توګه دا یوه پلمه وه چې د حکومت استازو مأمورینو ته په لاس ورغله، او هر کله چې دا مأمورین

[1] - khanadadi
[2] - khanawari
[3] - gholams shahinchis
[4] - sirgala
[5] - sadir

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ولسوالیو باندې ګرځي نو له ځمکوالو څخه په جبر سره ټاکل سوې ونډه واخلي – ځمکوال دې اعتراف وکړي چې د منصفانه او منظمې مبادلې په توګه به ټاکل سوې ونډه ورکوي، خو په واقعیت کې به ددې ونډه نیمایي هم نـهٔ ورکول کیدهٔ، د نوموړو ګامونو د عملي کیدلو لپاره ټول د ګومان وړ تاو تریخوالی، په زور اخیسته یا اخاذي ددې لپاره طرح او جوړ سوي ول چې د درانیانو هغه احساس راوپاوري دوی په دې ویاړ کاوهٔ چې د حکومت له مداخلې څخه معافیت لري. له څو کالو تجربو وروسته، د اجباري مبادلې دا ډول میتود نور د زغم وړ نـهٔ وو «مأمورینو ته ځانګړې لارښوونه سوې وه چې د نورو لارو چارو او د ځور او آزار د وسیلو تر څنګه دې د حکومت لپاره د غلاتو پیرودنګ دې د تخمونو د کرلو پر مهال وکړي او هغـهٔ غلات دې ضبط کړي چې بزګرانو به د تخم په توګه جلا کړي ول»، درانیان راغلل او غوښتنه ئـې وکړه چې دوی ته دی د کال په پیل کې د دولت د اړتیا وړ غلاتو د اندازې اټکل ورکړل سي او د بیلابیلو ځکموالو تر منځ به د ویش پر بنسټ د کندهار ښار رسمي مأمور ته اټکل سوې اندازه برابره کړو؛ د رعیت له ځمکو دې او د غلاتو د بیعې د دوه پر دریم له ورکړې څخه دې معافیت تر لاسه کړي او پاتې برخه دې په نقده توګه له خزانې څخه تصفیه سي. سردارانو ډیر ژر نور وسایل وموندل، خو دوی د خپل د عمومي سیستم په رڼا کې کې دا وسایل هم لکه د نورو وسایلو په شان بې خونده ول. هغه بیعه چې دولت باید ورکړې وای په لومړیو کې د لو پر مهال د ولسوالیو له اوسنیو بیعو سره ثابت وو – هغه بیعه چې معمولاً د ځنډ او ښار ته د ترانسپورت له کبله له دوه چندو ډیریدله – په دې توګه ډیر په ندرت پیښیدل چې بزګران به مجبور ول چې خپل غلات د روپۍ ۵۰ سیره دولتي ګودام ته وسپاري حال دا چې په ښار کې د غلاتو د انتقال پر مهال بیعه ۲۰ سیره په هماغه اندازه وه، ددې ترڅنګ مأمورینو ته لارښوونه سوې وه چې وزنونه دې غلط وتلي چې اکثراً له زور زیاتۍ سره ملګری ول؛ په دې توګه به ئـې له پلورونکي څخه یو په دوه اندازه واخیستله. د ځور او آزار د بلې وسیلې په توګه چې د بیعې دریمه برخه دې له خزانې ورکړل سي رد سوه او یا نور هر ډول تادیات تر ناڅرګندې نیټې پورې وځنډول سول او نورې ځورونې تر هغو اعمال سوې چې درانیان له دې ویرې چې دا ډول ځور او ربړ د نورو سترو اقداماتو د ربړ مقدمه ده اړ سول نو ددوهم ځل لپاره حاضر سول چې د خپل تیول ځمکو یوه مناسبه مالیه به ورکړي خو دا ډول مالیات باید په مشخص ډول څرګند وي او په دې سره دې تضمین کړي چې له نورو غیر معمول شوکو او زور اخیستنو چې په دې وروستیو کې په دوی باندې تپل سوې ول خوندي وي. دا هغه څه ول چې سرداران ئـې خپلې ټاکلې موخې ته ورسول، ددې موخې له ترلاسه کولو وروسته ئـې ژمنه ئـې وکړه چې نور به بوج نـهٔ ږدي او د نورو نارضایتیو په معافیت کې ئـې ځنډ ونـهٔ کړ. د غلاتو اجباري عرضه نوره په بشپړ ډول ودرول سوه؛ د «کاه بها» «د وښو قیمت»، او «سرانـهٔ پنج روزه» « د پینځو ورځو کار» چې د هرې قلبه ځمکې پر سر ټولټال ۱۱ روپۍ مالیه کیدله معاف سوه ؛ ددغو اقلامو پر ځای د غلاتو ټاکلې مالیه وضع سوه ؛ په دې توګه ښارته څیرمو تیول ځمکو باندې درې خرواره ټول ټال مالیه او په ولسوالیو کې د هرې قلبه ځمکې پر سر دوه خرواره ټول ټال مالیه وټاکل سوه.

سرداران تر لنډې مودې پورې پر خپلې ژمنې ودریدل خو د څو کالو له تیریدلو وروسته چې درانیانو د ځمکو د مالیاتو له ورکولو سره عادت ونیوهٔ تر بیلابیلو عناوینو او نومونو لاندې نوره اضافي مالیه هم وضع سوه؛ دهرې قلبه ځمکې پر سر ۳۰ مونډه مالیه کښیښودل سوه، نیمایي ئـې د «انبار داري» (زیرمتون) په نوم : دا هغه مالیه وه چې حکومتي مأمورینو د غلاتو له رسیدلو وروسته د فیس په توګه اخسیتله او د وخت په تیریدلو سره په خپله د سردار عوایدو ته منتقل کیدله، او بله نیمایي ئـې د «تفاوت سنګ» «د وزن په توپیر کې ونډه» وه دا غوښتنه د سردارانو وه چې نوی دولت وزن ئـې رامنځته کړی وو؛ دا وزن د بزګرانو د وزن په پرتلې ۵ په سلو کې دروند وو، حتی د ښار د غلاتو په مارکیټ کې دریمه مالیه په ښار پورې د اړوندو تیول قلبو پر سر د څلورو عباسیو ۱۶ شاهي وې «۵ عباسي یا ۲۰ شاهي یوه روپۍ کیدله» چې د وزیر د فیس په نوم اضافه سوه چې عمدتاً سردارانو نقد کوله او څلورمه او وروسته ئـې ۱۴ شاهي مالیه په ښار پورې د اړوندو تیول قلبه ځمکو پر سر وه؛ دا مالیه پر دې فرض ولاړه وه چې په دغو ځمکو کې د مالیې تخفیف د هغو کارګرانو د تجهیز او برابرولو لپاره ده چې د «سرد خانو» سرپرستي کوي خو د نورو مخکنیو اقلامو په شان په حقیقت کې د په خپل سر مالیې د زیاتولو لپاره یوه پلمه وه. ددغو یو ناڅاپو نامنلو او عموماً ظالمانه مالیاتو د تپلو پر وړاندې د باغاتو د مالیاتو یو پر دریمه په دې دلیل معاف سوه چې ضرب سویو مسکوکاتو خپل اصلي ثبات تر لاسه کړ خو خلکو په دې باب لا خوشحالي نـهٔ وه پیل کړې چې د «کاه بها» مالیه بیرته له سره وضع سوه چې د هرې تیول قلبه ځمکې پر سر درې خرواره واښه یا په بدل کې ئـې ۹ روپۍ مالیه وه؛ پر دې برسیره د لس په سلو کې «وروسته شپږ په سلو ته راټیټه سوه» د [محصلي] [6] په نوم مالیه د ټولو مالیاتو له تحقق وروسته اضافه سوه. کله چې سردارانو دا ټول مالیات وضع کړل، پرته له دې چې ددوی د اقتدار پر وړاندې کوم تاو تریخوالی راپورته سي له هغه وروسته ئـې نور اقدامات تر لاس لاندې ونیول چې پر قلبو باندې ئـې اغیز کاوهٔ ددغو اقداماتو موخه دا وه چې ددوی هغه پلان ته لا پیاوړتیا ورکړي چې پر درانیانو او رعیت باندې عام او یو برابر مالیاتي فشار راسي. که د تیول - قلبې محض اسمي مسؤولیت د پوځي خدمت لپاره ونډه وه خو د ترکښت لاندې ځمکې پراخوالي پر درانې څښتنانو باندې کومه فوري پایله نـهٔ درلودله. اوس چې له

---

6 - mohossili : ددې لغت سمه بڼه باید محصلي وي – ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرې قلبه ځمکې څخه د حاصل ټاکلې اندازه اخیستل کیږي، هغه ځمکې چې د نادر شاه پر مهال د ویش په وخت کې او یا اتفاقاً له اوبولګولو څخه محرومه وې ټولې له یوې مخې تر جدې پاملرنې لاندې راغلې؛ سردارانو اعلان وکړ چې درانیان او رعیت دواړه له برابر ملاتړ څخه برخمن دي، حال دا چې هر چیرې چې دا شرارت پلی کیدۀ دروند بار ئـې پر بزګرانو وو ، معافیتونه ورکړل سول چې اندازه ئـې په متعلقه ځمکو کې له قلبې «په اصل کې تشو ځمکو» سره برابره وه او د املاکو د ثبت دفتر کې ئـې د تیر په شان هیڅ بدلون رانغی. سرداران په یوۀ مورد کې د خپل فشار له سیستم څخه لیرې سول. سرداران د خپلو موخو د تعمیل لپاره د درانیانو د نورو قبیلو په منځ کې په بارکزیو ډېره ولګوله، له دې کبله بارکزیو ته ئـې د دوی د تیول د قلبو ټوله مالیه معاف کړه چې د شاړې ځمکې له منفي کولو وروسته ۹۳۳ قلبې وه او له دې شمیرې څخه ۵۴۲ قلبې ئـې په قریه جاتو یا « په ښار پورې په اړوندو سیمو» کې وې او ۳۹۱ قلبې ئـې په «محلات» [7] یا «ولسوالیو» کې وه. بارکزي ان پوځي خدمت ته هم ونه بلل سول نو له دې کبله ئـې په دې سیمې کې د درانیانو د قبیلو د لومړیو استوګن کیدلو له مهاله را وروسته اوس برلاسي ول او ډیر امتیازات ئـې تر لاسه کول.

نوربیا

۲۳ – سردارانو د خپلو اقداماتو په لړ...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولې برخې لوستی شئ.

[7] - mahalat

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ